د سولې او انسجام مشورتي بورډ

# د سولې طرحه

نېټه: ۲۰۲۱/۴/۳ م

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبى بعده!

افغانستان له تېرو څه باندې څلورو لسيزو، په يوې داسې نا انډوله او تپل شوې جګړې کې ښکيل دی چې د ټولنې او نظام، ملي، کلتوري او ان ديني بنسټونو ته يې نه جبرانيدونکې زيانونه رسيدلي .

تر ځان سترو طاقتونو سره جګړې او پرله پسې مهاجرتونو پرديو ته د ناوړه او نامشروع ګټې اخيستنې فرصتونه په لاس ورکړل؛ همدا لامل دی چې که اوس څوک د يوه رښتيني خپلواک افغاني نظام او يا ملي بنسټونو د بيا رغاونې هڅې کوي، مخه يې ډب کيږي!

د لوی احمد شاه بابا تر وفات ورسته د هند لويې وچې ته د انګريز استعمار راتګ او پر مرکزي اسيا د اتحاد جماهير شوروي ولکه، افغانستان د دوه سترو طاقتونو په منځ کې ګير کړ !

له هماغه وخته تر ننه پورې د افغانانو ټولو جګړو دفاعي شکل درلود! افغانانو د يوه آزاد او خپلواک ملت په حيث يوائې د يرغل د مخنيوې هڅه کړې او د بل هيڅ هيواد پر حريم نه دی بلوسيدلی!

دې جګړو ډيرې ناخوالې وزيږولې چې ځينو يې آن د افغانستان ټولنيز جوړښت له لوی ازمايښت سره مخ کړ، د بيلګې په توګه دافغان کلمه چې له څو پيړيو راهيسې د افغانانو تر منځ يوه متفق عليها کلمه او د ميشتو مليتونو تر منځ د وحدت رمز دی، هم د ځينو مغرضو کړيو له خوا تر پوښتنې لاندې راوستل شوه!

همدا راز، د افراط او تفريط نښې تر بل هر وخت ډيرې تر سترګو کيږي؛ که يې مخه ډب نه شي، ډيرې بدې پايلې به ولري!

د ګاونډيانو نا مشروع ګټې د دې لامل شوي چې هغوی مشخصې کړۍ په غير کې ونيسي، د ولس فقر، بی کاری دا ستونزې لا ډېرې کړې.

دغه او ديته ورته لاملونه د دې سبب کيږي چې که د افغانستان ستونزو ته د حل يوه عملي او معقوله لار پيدا نه شي، نو خدای مکړه د افغانستان موجوديت به د لا سترو ننګونو سره مخ شي!

 E-mail: p.c.a.b@outlook.com

نو له همدې امله د افغانستان د سولې او انسجام مشورتي بورډ خپل ديني او ملي مسووليت ته په کتو د امريکا له لوري د وړاندې شوې طرحې او نورو طرحو له ارزونې وروسته غوره وبلله چې: د افغانستان د معضلې د حل لپاره يوه نوې داسې طرحه وړاندې کړې:

چې د افغانستان ځمکنيز واقعيتونه، ملي حاکميت، ديني ارزښتونه او افغاني عنعنوي دودونه په کې په نظر کې نيول شوي او د کارونو د اجراء د چټکتيا په هکله چټکې پريکړې کولو وړتيا ولري او د حکومت اجرائيوي ځانګه له سياسي منازعاتو څخه لرې ساتي او د باور فضاء رامنځ ته کوي.

اوهمدارنګه د اوربند د عملي کولو، نظامی قطعاتو اصلاح او يو ځای کولو په هکله د کميسينونو ټاکل او تګلاره ښودل شوې، هڅه شوې ترڅو د افغانستان د ولس تمثيل په سمه او معقوله توګه شوی وي.

دا طرحه په عمومي توګه د سولې د پريکړو دتطبيق لپاره د يو نوې حکومت دندې او تګلاره ټاکي؛ ترڅو وکولی شي د راتلونکې لپاره د افغانانو په خوښه يو داسي نظام ته لار هواره کړې چې ټول افغانان خپل ځان په کې وويني او د عدالت تمه ترې ولري.

دا طرحه څلور برخې لرې چې هره برخه يې بيا په څو اجزاوو ويشل شوې چې د سولې د تړون د لاسليک څخه نيولې بيا د نوي اساسي قانون پر بناء نوي حکومت ته واک سپارلو پورې مرحلې رانغاړي.

په پای کې د سولې او انسجام مشورتي بورډ، د الله پاک جل جلا له دربارته لاسونه لپه کوي چې دا طرحه د افغان ولس او هيواد په خير تمامه کړي، او دا ناڅيز زيار يې په خپل حضور کې قبول کړي.

وصلی الله عليه وآله وصحبه وسلم،،،،

 E-mail: p.c.a.b@outlook.com

# د افغانستان د سولې تړون

لاندې تړون د افغانستان د سولې د مذاکراتو د دواړو ارخونو ترمنځ دی چې څلور برخې لري.

**لومړۍ برخه:**

د راتلونکي اساسي قانون او راتلونکي دولت لپاره اصول او تګلاره ټاکل.

**دوهمه برخه :**

د سولې د تړون پرېکړو د تطبيق لپاره د ځای ناستي حکومت اساسي دندې د راتلونکي حکومت لپاره اساسي قانون ټاکل، امنيتي چارو ته رسيدنه د هيواد ورځينې چارې پر مخ وړل .

**دريمه برخه:**

(۱) د اسلامي عالمانو عالي شورا

(۲) قضائيه قوه

(۳) د اساسی قانون تدوين

(۴) لويه جرګه

**څلورمه برخه:**

(۱) د اوربند د شرايطو تطبيق؛

(۲) د دواړو اړخونو نظامي قطعات - پوځ،امنيت ، پوليس – يوځای کول؛

(۳) د دواړو اړخونو ملکي ارکانونو انسجام.

# لومړۍ برخه

## د راتلونکي اساسي قانون او راتلونکي دولت لپاره اصول او تګلاره ټاکل

دواړه لوري پر لاندې اصولو باندې توافق کوي چې په راتلونکي کې د افغانستان د دولت د اساسي قانون لارښود وي

۱ - د اسلام مقدس دين د افغانستان رسمي دين او حنفي مذهب رسمي مذهب دی چې د دې لپاره به د علماوو اسلامي عالي شورا جوړېږي تر څو دولت ته لارښوونې، لازمې مشورې او فتواګانې ورکړي.

۲ – راتلونکی دولت به په دوحه کې د امريکا د متحده ايالاتو او د افغانستان د اسلامي امارت تر منځ د شوي تړون بشپړ تطبيق ته؛

د افغانستان اسلامی امارت او د افغانستان د جمهوری دولت د مذاکراتي ټيمونو تر منځ پر توافق شويو- اصولو ته ژمن وي.

۳ – ټولو افغانانو ته په سوله ايز چاپيريال کې د ژوند کولو شرايط برابرول، ترڅو افغانستان د ټولو قومونو، پرګنو، قبيلو لپاره ګډ کور و اوسي؛ د مهاجرينو او د بېځايه شويو کورنيو لپاره د بېرته پر ځای کېدو زمينه برابرول به د راتلونکي حکومت لپاره يو اصل وي.

۴- د ټولو افغانانو د عزت، ژوند، ملکیت ساتنه او د ملکیت اعاده؛ د دوی د مدني، سیاسي، ټولنیز، کلتور او د بیان ازادۍ څخه ملاتړ کول چې په راتلونکي اساسي قانون کې به درج شي؛

د افغانستان اینده دولت، اسلامي ارزښتونو، سیاسي، ټولنیز عدالت، د خلکو ارادو، ملي وحدت د افغانستان خپلواکې، ملي حاکمیت ځمکنۍ بشپړتیا ساتنې ته ژمن او خپل مسؤولیت ګڼي.

۵ – د افغانستان راتلونکی اساسي قانون به په سیاسي تولنیزو، اقتصادي، تعلیمي او کلتوري چارو کې د ښځو او ماشومانو د حقوقو خوندیتوب د اسلامي شریعت مطابق تضمینوي.

۶ – د افغانستان ملي بنسټونه او نورو عام المنفعه ارګانونو په شمول د امنیتي او تعلیمي بنسټونو د ملي شتمنیو په توګه وپېژندل او لا غښتلي شي چې په دې کې د عامه زیربناوو ، ښوونځیو، مدارسو، مساجدو روغتونونو، بازارونو، د اوبو بندونو او نور عامه دفترونو ساتنه شامله ده.

۷ - دافغانستان راتلونکی دولت به د تیرو شاوخوا څلورنیمو لسیزو ناخوالو د ټولو قربانیانو په ځانګړې توګه ټپیانو، یتیمانو، کونډو او معلولینو ته به درناوی، د هوساینې او بسیاینې لپاره عملي ګامونه پورته کوي. د انتقالي عدالت د پلي کولو لپاره داسې پالیسې جوړوي چې د حقیقت پلتنې، ملي پخلاینې او بښنې چې د اسلامي شریعت، او نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې نه وي.

۸ – افغانستان به ناپیلی سیاست پر مخ وړي، د ګاونډیو ،اسلامي نړۍ ، نورو هیوادونو او نړیوالې ټولنې سره به یې اړیکې پر دوستۍ ولاړې وي. افغانستان به هغو نړیوالو قوانینو ته ژمن پاتي کیږي چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي. هیچاته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د ګاونډیو او یا نورو هیوادونو په خلاف وکاروي. همدارنګه د افغانستان دولت به هیچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

۹ – د افغانستان دولت به له نړیوالو څخه د افغانستان د ملاتړ او بیا رغونې لپاره د کړیو ژمنو پوره کول او د نورو مرستو غوښتنه کوي.

۱۰ – راتلونکی اساسي قانون به دسیاسي مشرتابه د غوراوي لپاره د افغان ولس د ارادې د تمثیلولو زمینه برابروي، او ټاکل شوي مشران به د هیواد د ټولو ملي پریکړو حق لري.

۱۱ – د افغانستان راتلونکی اساسي قانون به د حکومت جوړښت، او د اداري تشکیلاتو تر منځ توازن ساتي او د قواوو صلاحیتونه به ټاکي.

۱۲- قضایي قوه د یو مستقل ارګان په توګه د اساسي قانون په هکله د منازعاتو او نورو حقوقي اختلافونو په شمول د اسلامي قوانینو د تفسیر اخري مرجع به بلل کېږي او د اسلامي علماوو عالي شورا به د اسلامی قوانینو د تفسیر په اړه قضایي قوې ته په مشوره ورکولو کې خپل رول ولري.

۱۳– افغانستان به د حساب ورکونې او شفافیت معیارونو ته ژمن وي او د فساد سره مبارزې، د غیر قانوني نشه یې توکو د مخنیوي لپاره به ټول اړین ګامونه اخلي.

۱۴– راتلونکی دولت به یو واحد، متحد او مستقل دولت وي چې د یوه ملي مرکزي حکومت له لوري به اداره کېږي چې هیڅ موازي حکومتونه او د حکومت له چوکاټه پرته غیر مجاز مسلح ځواکونه او ملیشو درلودل به د قانون خلاف وي.

# دوهمه برخه

## ځای ناستی حکومت او دندې يې:

(۱) د سولې د تړون د پرېکړو تطبيق؛

(۲) د راتلونکي حکومت لپاره د اساسي قانون تدوين ؛

(۳) امنيتي چارو ته رسيدنه او د هيواد ورځینی چارې پر مخ وړل.

## لومړی- عمومي احکام:

الف: د سولې د تطبيق لپاره به ځای ناستی حکومت د سولې د تړون د لاسليک د نېټې څخه رامنځته کېږي او د اساسي قانون د تصويب او ملي ټاکنو په نتيجه کې راتلونکي حکومت ته به واک سپاري. ځای ناستې حکومت ته د قدرت انتقال به د تړون د لاسليک د نيټې څخه په حد اکثر ( xx ) ورځو کې ترسره کېږي. ځای ناستی حکومت موده به ( xx ) مياشتې وي.

ب: د سولې دواړه لوري مکلف دي چې په ټاکل شوې موده کې ځای ناستې حکومت ته واک ولېږدوي.

ج– لاندې قانوني چوکاټ به د نوي اساسی قانون تر تصويبيدو پورې په ټول افغانستان کې تطبيقيږي.

( ۱ ) د افغانستان اوسنی اساسي قانون تر هغې پورې د تطبيق وړ دی تر څو چې د دې تړون سره په تضاد کې نه وي

( ۲ ) اوسني قوانين، فرمانونه او مقررات په دې شرط چې د سولې د تطبيق ځای ناستی حکومت يې د فسخ کولو تعديلولو صلاحيت ولري؛ او يا هغه قوانين، فرمانونه او مقررات چې د سولې د تطبيق د ځای ناستي حکومت له لوري تصويبيږي تر هغه حده پورې د تطبيق وړ دی په دې شرط چې د دې:

( ۱) تړون ( ۲ ) د نړيوال حقوق تړونونه چې افغانستان يکې طرف وي ( ۳ ) د افغانستان د اساسي قانون سره په تضاد کې نه وي.

د ـ د اسلامي شريعت مطابق او د افغانستان له خوا منل شوي نړيوال حقوقي تړونونو اصل ته د رعايت کولو په درناوي د ځای ناستی حکومت د دواړو لوريو د غړو او د دوی ځواکونه د خيانت په جرم اونورو جرمونو په تور چې د دواړو لوريو په ليکو کې د دندې پر وخت ترسره شوي وي د ملي پخلاينې په منظور تر تعقيب لاندې نشي نيول کيدی.

هـ– ځای ناستی حکومت به په ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو بنسټونو کې د افغانستان استازيتوب کوي.

و– د ځای ناستي حکومت له لوري د وزيرانو د نوې کابينې تر اعلان پورې به د وزيرانو اوسنی کابينه د حکومت کارونه پر مخ وړي؛

د ځای ناستي حکومت د لوړې کولو سره سم به ولسي جرګه او مشرانو جرګه منحل کيږي او صلاحيتونه به يې دولت رهبري شورا ته انتقاليږي.

## دوهم- د ځای ناستي حکومت برخې

ځای ناستي حکومت دوه برخې لري:

( ۱) دولت رهبري شورا

( ۲ ) اجرايوی مشر

## (لمړۍ): دولت رهبري شورا:

دولت رهبري شورا جوړښت او دندې به په لاندې ډول وي:

(۱) دا شورا به د ( xx)کسانو څخه جوړه وي چې هر لوری به ورته ۴۰٪ کسان معرفي کوي او پاتي ۲۰٪ کسان د طرفینو په تفاهم د بې طرفو افغانانو څخه د دې تړون له لاسلیکولو څخه مخکې ټاکل کېږي

(۲) د دې شورا د غړو له منځه به د دولت رهبري شورا مشر او مرستیال ټاکل کیږي او د اوسني حکومت څخه به واک تسلیموي.

(۳) دا شورا به د اوسنۍ ولسي جرګې او د مشرانو جرګې ځای نیسي او د ځای ناستې حکومت په موده کې به د قوانینو د تصویب، تعلیق او تعدیل واک ولري.

(۴) دا شورا به د افغانستان د ملي حاکمیت اخري مرجع او د واک ممثل وي او مشر به یې قوانین توشیح کوي.

(۵) دولت رهبري شورا به د سترې محکمې، د اساسي قانون د تدوین د کمیسیون، او نورو خپلواکو کمیسیونونو غړي ټاکي.

(۶) د دولت رهبري شورا پریکړې به درایو د اکثریت پربنسټ ۵۰٪+ ۱ وي او که چېرته په دوهم ځل د رایو اکثریت حاصل نشو هغه رایه به د قبول وړ وي چې د دولت رهبري شورا مشر په کې شتون ولري. د دولت رهبري شورا د پریکړو لپاره ۲/۳ نصاب حتمی دی.

(۷) دولت رهبري شورا به د ځای ناستي حکومت د مودې له پای سره ختمیږي، غړي یې په راتلونکي کې په هیڅ حالت او هیڅ وخت کې د دولت رئیس او یا حکومت مشر په توګه دنده نشي کولی، د ځای ناستي حکومت په موده کې یوازې د اوسني اساسي قانون د موادو په مطابقت عزل کیدی شي.

(۸) د دې تړون له لاسلیکیدو څخه مخکې او د دولت رهبري شورا د غړیو له ټاکل کیدو وروسته به دولت رهبري شورا د حکومت حکومت مشراو مرستیالان ټاکي.

## (دوهم) حکومت مشر:

(۱) د حکومت مشردنده به د هیواد د امنیتي او د حکومت د ورځنیو چارو د مخته وړلو لپاره وي، دوه مرستیالان به ولري ،دولت رهبري شورا ته به ځواب ویونکی وي، د هیڅ سیاسي جریان غړی به نه وي، سني مسلمان د مسلماني مور او پلار څخه زیږیدلی وي، حکومت مشربه د لوړې د ترسره کولو د نېټې څخه په ( xx) ورځو کې کابینه دولت رهبري شورا ته د تایید لپاره وړاندې کوي او دولت رهبري شورا به یې په حد اکثر ( xx) ورځو کې تایید یا رد وي، حکومت مشرمکلف دی چې د رد شویو وزیرانو په ځای نوي وزیران په ( xx) ورځو کې دولت رهبري شورا ته د تایید لپاره وړاندې کړي.

(۲) د ځای ناستې حکومت مشراو د کابینې غړې به په راتلونکې حکومت کې همدا او یا له دې لوړې دندې نشي اجراء کولی.

### الف– امنیت:

(۱) د دولت رهبري شورا مشر به د وسله والو ځواکونو سر اعلی قومندان وي ، چې تر مشرۍ لاندې یې حکومت د افغانستان د امنیت او دفاع مسئولیت په غاړه لري.

(۲) د دولت رهبري شورا مشر به په خپله مشرۍ مشترک امنیتي بورډ ایجادوي چې د دولت رهبري شورا دوه غړي، داسلامي عالمانو دعالي شورا رئیس، د حکومت مشر،د کورنیو ، بهرنیو چارو او د فاع وزیران او د امنیت عمومي رئیس به یې غړیتوب لري.


E-mail: p.c.a.b@outlook.com

(۳) د همدې امنيتيي بورډ تر چتر لاندې د دواړو لوريو د وسله والو ځواکونو په صفوفو کې د لازمو اصلاحاتو، ځواکونو د يوځای کولو، د واحدې قومندې د ايجادولو د پاليسي جوړلو او تطبيق لپاره مشترک کميسيون جوړيږي او غړي به يې دولت رهبري شورا ټاکي.

## ب– بهرنۍ اړيکې:

د ځای ناستي حکومت د دولت رهبري شورا مشر به د بهرنيو اړيکو مشري پر غاړه لري او ځای ناستی حکومت به لاندې ذکر شويې ژمنې کوي:

(۱) ناپيلی او د نورو هيوادونو په چارو کې د نه لاسوهنې سياست؛

(۲) د هغو وسله والو ډلو ټپلو کوربه توب او ملاتړ به نه کوي چې نورو هيوادونو ته ګواښ پيښوي؛

(۳) له نړيوالې ټولنې سره د متقابل احترام اصل ته په کتو به مثبتې اړيکې پالي تر څو د افغانستان په بيا رغونه کې مرسته وکړي؛

(۴) د پولو پر دواړو خواوو او د نړيوال تجارت او پانګې اچونې د زياتوالي سياست پر مخ وړل

(۵) د ځای ناستي حکومت دولت رهبري شورا مشرتابه به په بهر کې د افغانستان سياسي نماينده ګان د حکومت مشرپه وړانديز ټاکي.

## ج– مشترک کميسيونونه:

دولت رهبري شورا به د هغو اړينو موضوعاتو په اړه چې د پخلاينې لپاره مهمې دي، د دې ترڅون د لاسليک له نېټې اوځای ناستی حکومت ته د واک د انتقال څخه مخکې د دواړو لوريو د عادلانه تمثيل اصل ته په کتو لاندې کډ کميسيونونه جوړوي:

(۱) د اساسي قانون د تدوين کميسيون؛

(۲) د انتقالي عدالت کميسيون د دواړو لوريو د قربانيانو پرحقونو، حقيقت موندنې او د پخلاينې د پروسې د ګړندي کولو لپاره؛

(۳) د دواړو لوريو د افرادو لپاره د معيشت برابرول او د پوځې ليکو اصلاح او يوځای کولو کميسيون؛

(۴) د مهاجرينو او بې ځايه شويو د بېرته راستنولوکميسيون؛

(۵) د اوربند څخه د نظارت کميسيون؛

(۶) د جګړه ځپليو سيمو د بيا رغاونې کميسيون.

## د- : د محلي ارګانونو جوړښت

(۱) رهبري شورا به د ټولو ولايتونو لپاره واليان او مرستيالان ټاکي.

(۲) د دواړو لوريو څخه به په مساوي توګه واليان ټاکل کېږي، که د يوه ولايت والي د يوه لوري وي معاون به يې د بل لوري څخه ټاکل کېږي.

 E-mail: p.c.a.b@outlook.com

# دريمه برخه

(۱) د اسلامي عالمانو عالي شورا

(۲) قضائيه قوه

(۳) د اساسی قانون تدوين

(۴) لويه جرګه

## لومړی- د اسلامي عالمانو عالي شورا:

(۱) د اسلامي عالمانو عالي شورا چې ( xx ) غړي لري د لومړي ځل لپاره به د دولت رهبري شورا له لوري د دې ترون له لاسليک څخه مخکې ټاکل کېږي، د غړيو د ټاکلو لپاره افغان تابعيت، د څلويښتو کلونو عمر او يا له دې لوړ چې په ټولنه کې په علميت، تقوی او عدالت شهرت ولري.

(۲) د اسلامی عالمانو په عالي شورا کې به د افغانستان د اثني عشريه ( فقه جعفريه ) مذهب په استازيتوب هم غړي شتون ولري.

(۳) د اسلامی عالمانو عالي شورا به د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې صلاحيت لري , خپل داخلي اصول او تګلاره به په خپله ټاکي.

(۴) په راتلونکي اساسي قانون کې به د اسلامي عالمانو عالي شورا ته د غړيتوب او عزل شرايط او د غړيتوب موده ټاکل کېږي

(۵) د اسلامي عالمانو عالي شورا به د اسلامي شريعت سره د قوانينو دمطابقت په هکله اخري پريکړه کوي او په مهمو ملي مسائلو کې به حکومت ته فتواوې ورکوي.

(۶) د اسلامی عالمانو عالي شورا هغه پريکړې د حکومت لپاره الزامي دي چې د شورا د اکثريت غړو له خوا تاييد شوي وي، او فقهي مسائلو کې د اختلاف په صورت کې به محاکم د دې شورا پريکړې د يوه قانوني سند په توګه مني.

## دوهم- قضائيه قوه

د افغانستان قضائيه قوه به مستقله د سترې محکمې چې ( xx) غړي به لري، استئناف او نورو محاکمو چې رامنځته کېږي جوړه وي، ددې ترون هر لوری به د سترې محکمې غړيتوب ته ( xx)کسان ورپيژني او وروستی غړی به د دولت رهبري شورا د مشر له لوري ورپيژندل کېږي.

دسترې محکمې غړي به د دولت رهبري شورا د ټاکل کيدو څخه وروسته د ( xx) ورځو په موده کې مخکې له واک تسليمولو څخه د دواړو لوريو له خوا معرفي کېږي، داخلي اصول او طرز العمل به په خپله تنظيموي؛

د دې ترون د احکامو، د افغانستان د اوسني اساسي قانون،او په افغانستان کې د موجوده نورو قوانينو د تفسير، وروستي او الزامي پريکړې کول د قضائيه قوي صلاحيت دی. د قضائي قوې تر چتر لاندې به د مدني شخړو د حلولو لپاره د، دوديزو او عنعنوي غير دولتي جرګو له لارې د مدني شخړو د حلولو اجازه ورکول کېږي په دې شرط چې د اسلامي شريعت له احکامو، ددې ترون د موادو، او د اساسي قانون او دنړيوالو قوانينو سره په ټکر کې نه وي. د مدني شخړو د پريکړو تنفيذ او جنائي جرمونو چارې يوازې پر دولت پورې اړه لري.


E-mail: p.c.a.b@outlook.com

## دريم- د اساسی قانون تدوين

(۱) د اساسی قانون د تدوين کميسيون به له ( xx ) غړو څخه جوړ وي چې د دې تړون له لاسليک څخه وروسته به په ( xx) ورځو کې د دولت رهبري شورا له لوري ټاکل کېږي.

(۲) د اساسی قانون د تدوين غړيو ترکيب به د دولت رهبري شورا د ترکيب په شان وي يوازې اخري غړی به د دولت رهبري شورا د مشر له خوا ټاکل کېږي.

(۳) د اساسي قانون د تدوين کميسيون په ترکيب کې به د اسلامي فقهي او حقوقي کارپوهان شامل وي.

(۴) د اساسي قانون د تدوين کميسيون به د پراخو مشورو وروسته د [xx] ورځو دننه د نوي اساسي قانون مسوده جوړه کړي او وروستۍ مسوده به لومړی د اسلامی عالمانو عالي شورا ته د تاييد او يا رد لپاره لېږي، او د اسلامي عالمانو عالي شورا به په حد اکثر ( xx ) ورځو کې خپله پرېکړه د اساسي قانون د تدوين کميسيون سره شريکوي، او نهائي مسوده به د وروستي بحث او تصويب لپاره لويې جرګې ته وړاندې کوي.

## څلورم- لويه جرګه:

(۱) د رهبري شورا له لوري به د لويې جرګې د تدوير او تنظيم لپاره لنډ مهاله کميسيون جوړيږي.

(۲) لويه جرګه به د نوي اساسي قانون د ورستنۍ مسودې د بحث او تصويب لپاره را غونډيږي.

(۳) لويه جرګه به ( XXXX ) غړي ولري، د افغانستان د ټولو ولايتونو څخه به د ولايتونو د نفوس شمېر ته په کتو را بلل کېږي د هرې ولسوالۍ څخه د هرو ( 20000 ) کسانو په استازيتوب به يو يو کس را غوښتل کېږي، او پاتې غړي به يې په افغانستان کې د علماوو د مختلفو شوراګانو، د پوهنتون استادانو، متخصصينو، مدنی فعالانو، سياسي، روحاني او مذهبي څېرو، معلولينو، ځوانانو،ښځو، مذهبي لږکيو او بهر ميشتو مهاجرينو استازي را بلل کېږي.

(۴) د رهبري شورا، د اسلامي عالمانو عالي شورا، حکومت مشر، دکابينې غړي او مرستيالان يې،د سترې محکمې غړي، د ولايتونو واليان او مرستيالان يې او د نظامي ليکو افسران په لويه جرګه کې د رايې ورکولو حق نه لري.

# څلورمه برخه

(۱) د اوربند د شرايطو دتطبيق او نظارت کميسيون؛

(۲) د دواړو اړخونو نظامي قطعات - پوځ،امنيت ، پوليس – اصلاح او يوځای کول؛

(۳) د دواړو اړخونو د ملکي ارګانونو انسجام.

## لومړی- د اوربند د شرائطو د تطبيق او نظارت کميسيون:

(۱) د اوربند د نظارت او تطبيق کډ کميسيون («د اوربند کميسيون») به د دې تړون له لاسليک څخه مخکې او د رهبري شورا د غړيو له تعيين وروسته سمدلاسه جوړ شي چې د اوربند څخه څارنه وکړي او شخړې، پېښې او يا د تخطيو ادعاوې وڅېړي. د اوربند کميسيون به ( xx) غړي ولري چې هر لوری به (x ) غړي وټاکي، او يو غړی به يې د رهبري شورا لخوا نومول کېږي. پدې کميسيون کې به د ملګرو ملتونو لخوا درې (۳) خپلواکه نړيوال څارونکي د هغه هيوادونو اتباع هم شامل وي چې په افغانستان کې يې په تيرو شلو کلونو کې نظامي شتون نه درلود او دنده به يې مشورتي وي.


E-mail: p.c.a.b@outlook.com

(۲) د دې تړون په لومړۍ ورځ به د اوربند کميسيون د اوربند د پلي کيدو لپاره يو لړ لارښونې او سلوکي ضوابط په ليکلي بڼه خپاره کړي چې سمدستي پلي شي. د اوربند کميسيون به (x) سيميز او (xx) ولايتي ګډ واحدونه جوړ کړي او نظارت به ترې کوي – د اوربند د کميسيون د لزوم ديد پر اساس د ولسواليو په کچه هم جوړيداى شي. ياد واحدونه به د اوربند څخه د نظارت او پلي کولو په موخه په اړوند سيمو کې د دولتي او غير دولتي بنسټونو څخه مرسته غوښتى شي.

(۳) د اوربند د لا ټينګښت په پار په مرکز، ولاياتو او د ولسواليو په کچه د دواړو لوريو د نظامي کميسيونونو او د اوربند د سيميز او محلي واحدونو تر منځ د اړيکو نيولو سرې کرښې ايجاد شي ترڅو د تخطيو د مخنيوي لپاره کړندي ګامونه په وخت واخيستل شي.

(۴) که چيرى د اوربند کميسيون، سيميز او يا محلي ګډ واحدونه د اوربند څخه سرغړونې په ګوته کړي، دوی د اړيکو نيولو د سرو کرښو له لارې چې د دې مادې په ( 3) فقره کې يې يادونه شوې د ستونزو د حل کولو هڅه وکړي او د رامنځته شوې پيښې په اړه د پايلو راپور سيميز او مرکزي نظامي کميسيونو او د اوربند کميسيون ته وليږي، تر څو د پيښې د نه حل په صورت کې اړين ګامونه واخلي.

(۵) د اوربند کميسيون کولی شي چې د اړتيا په صورت کې د اړوند سيمو د نظامي کميسيون څخه د سرغړونکې فرد او يا افرادو د تبديلۍ او منفک کولو ، متضررينو ته د تاوان جبيره او دېته ورته وړانديزونه وکړي.

(۶) د اوربند څخه د سرغړونو په هکله د اوربند د کميسيون راپور د سرغړونکي جهت په هکله نهايي دی.

## دوهم- د دواړو اړخونو نظامي قطعاتو - پوځ، پوليس ، امنيت – د اصلاح او يوځای کولو کميسيون:

(۱) د افغانستان د راتلونکې امنيتي ځواکونو نظامي عقيده به د اسلامي شريعت پر بناء د عدالت پلي کولو، د ملي نواميسو،د افغانستان د ګټو، د اسلامي قانون پر بناء د جوړ شوي نظام، د هيواد خپلواکۍ ځمکنۍ بشپړتيا او پولو ساتنه، د افغانستان څخه نورو هيوادونو ته د ګواښونو د مخنيوي او د افغانستان پر خاوره د اوسيدونکو وګړو د خوندي ساتلو پر اصولو ولاړه وي

(۲) د پورته اصولو پر بناء د امنيتي ارګانونو د اصلاح او د سولې د دواړو لوريو د وسله والو د يوځای کولو او يا ملکي کولو د ميکانيزم د ټاکلو او عملي کولو په پار به دې رهبري شورا له خوا ( XX ) کسيز کميسيون جوړيږي چې اخري غړی به يې د رهبري شورا د مشر له خوا ټاکل کيږي، غړي به يې د دواړو لوريو له نظامي قطعاتو، استخباراتو او پوليسو له لوړ رتبه افسرانو ، اسلامي فقهې او حقوق پوهانو څخه ټاکل کيږي.

(۳) دا کميسيون به د رهبري شورا له خوا د واک تر تسليميدو مخکې او د تړون له لاسيک وروسته ټاکل کيږي، او خپله داخلي تګلاره به په لومړۍ جلسه کې ټاکي.

(۴) دا کميسيون به امنيتي ارګانونو د اصلاح،د دواړو لوريو د ځواکونو يو ځای کول، د تنقيص شويو وسله والو ملکی کول او ورته د بديل معيشت برابرولو سپارښتنو او نورو نظامي چارو په هکله يوه هر اړخيزه پاليسي جوړوي او رهبري شورا ته به يې په ( XX ) ورځو کې د تاييد لپاره ليږي، د رهبري شورا د تاييد وروسته به يې د عملي کولو دنده په غاړه لري.

(۵) دواړه لوري به تعهد کوي چې د دې کميسيون سره همکاري کوي ترڅو د دواړو لوريو امنيتي ارګانونه د ځای ناستي حکومت د مودې له ختميدو مخکې خپل ټاکل شوي هدف ته ورسيږي.

(۶) د افغانستان په راتلونکي اسلامي نظام کې به هيڅ نوع شخصي، يا محلي او ګوندي مليشو ساتلو ته ځای نه وي.


E-mail: p.c.a.b@outlook.com

## دریم- د دواړو اړخونو د ملکي ارګانونو انسجام کمیسیون

ځایناستي حکومت به د دواړو اړخونو د ملکي ارګانونو د انسجام او اصلاح لپاره د دولت رهبري شورا سره په مشوره اړین کمیسیون جوړوي. دا کمیسیون به ( XX ) غړي لري چې د حکومت د مشر له لوري به د دولت رهبري شورا ته پېژندل کیږي.

نوټ: د دې طرحې اصلي متن په پښتنو ترتیب شوی چې د اختلاف په صورت کې د پښتو متن د اعتبار وړ دی.

# ضمایم

الف ضمیمه:

(۱) د رهبري شورا غړي، مشر او مرستیال.

(۲) حکومت مشر

ب : ضمیمه

د اسلامی عالمانو عالي شورا غړي.

ج: ضمیمه

اوربند کمیسیون غړي.

والصلح خیر
د سولې او انسجام مشورتي بورډ
Peace & Coordination Advisory Board
PCAB


E-mail: p.c.a.b@outlook.com